# پښتو تذکرة الاولیاء

د

سلیمان ماکو

(٦١٢ هـ ق تالیف)

سریزه، سمون او ښبلونی

د

پوهاند عبدالحی حبیبی

پنځوس کاله پخوا زه د هلمند د ناوې د آدم خان په کلي کي، د زړو کتابو د پیدا کولو په اسره، د هغه ځای په ماجتو کي گرځیدم.

لرغونی حجری او د خاورو او گرزونو ډکي طاقچی می پلټلې، چي ډیری زړی او ورستي پاڼي او کاغذونه به هلته، د خزدکو او خېکانو خوراک و.

دی سره شوریدلو پاڼو ته چا له دی لاس نه وروی چی د زړو خطی او چاپ سوو قرآنو پاڼی به هم ورسره وی، او خلکو به په دی سبب چی د قرآن عظیم د ځیرو او خوړینو سوو پاڼو بی احترامی و نه سی، دغه به یی په یوه زاړه نړیدلی قبر کی اچولی، یا به یی د ماجت په یوه گوښه طاقچه کی ایښوولی، چی د انسان یا حیوان تر پښو لاندی نه سی.

خلك ساده او نالوستی وو، نه پوهیدل، چی ښایی په دغو زړو گرز او دود وهلو پاڼو کی به د اسلافو د ارزښتمنو آثارو څخه، د کوم گټه ور کتاب څو پاڼی هم وی.

هغه وخت زما د ځوانی ورځی وی، له یوه کلی څخه به بل کلی ته پلی تلم، اولکی به می تر پښو کښلی چی گوندی داسی یو څه لاس ته راسی، چی هغه د خوندی کیدو وړ وی.

په دغه تمه او هیله، یوه ورځ، په یوه ماجت کی پر یوه خطی دود وهلی د گرزو ډکه، خزدکو خوړلی نسخه پیښ سوم. دا د حنفی فقه د فروعو د کنز الدقایق یوه د هند چاپ، بی سروپایه شوړیدلی نسخه وه چی د پاڼو په منځ کی یی څلور پاڼی په یوه بل ډول پرتی وی، خو د خزدکو د تطاول وار لا نه و ور رسیدلی.

دا پاڼی دولس نیم سانتی متره پسور او پنځلس سانتی متره اوږدوالی لری، خط یی بد او بی خونده نسخ، خو کله کله نستعلیق ته ورته دی. پر هغسی سپین کاغذ کښل سوی دی، چی په قندهار کی یی کوکانی کاغذ باله (ښایی خوقندی؟)

د مخو د لیکو عدد مختلف دی، مثلا لومړی مخ ١٦ لیکی، دریم مخ ١١ لیکی، څلرم ٩ لیکی، او آخر مخ ١٢ لیکی لری.

په لومړی لیدنه دا ښکاره سوه چی دا پاڼی پښتو دی، او تر لومړی مخ دمخه چی کومه صفحه سپینه ده د متن په خط (هذا کتاب تذکرة اولیا) پر کښل سوی دی.

د دی خط او املا لوستنه زما له پاره ډیر سخت کار و، لس کاله دا پاڼی زما سره نالوستی پاته سوی. خو په ١٣٢٠ ش کال چی ما د پښتانه شعراء لومړی ټوک چاپاوه نو می وکړای سوای چی دا پاڼی گرده ولولم، او د دغه کتاب د ٦٤ او ٦٥ مخ تر منځ، د اصلی پاڼو د عکسونو سره یو ځای، د پښتو ادبیاتو د پلټنی او گروېږنی ډگر ته را ووتلی.

د کتاب مولف سلیمان د بارک خان زوی، په قوم ماکو سابزی، د ارغسان اوسیدونکی و چی په ٦١٢ هجری قمری کال یی دا د اولیاوو تذکره کښلی وه.

د سلیمان د تذکری د دغو څلورو پاڼو تاریخی او ادبی ارزښت له دی جهته ډیر دی، چی د پښتو نثر ډیره لرغونی نمونه موږ ته را سپاری، او بیا دری سوه کاله وروسته موږ د پیر روښان او اخوند درویزه مسجع نثرونه لرو، خو د سلیمان ماکو د نثر په توگه، بله پخوانی نسخه تر اوسه نلرو.

کله چی د دی تذکری دغه پاڼی پیدا سوی، هغه می په دی دا وروسته پنځوسو کلو کی پښتانه شعراء او د پښتو ادبیاتو تاریخ (دوهم ټوک) کی معرفی کړی، او نوری مقالی او څیړنی می هم پر خپری کړی، چی د هېواد په داخل او خارج کی د پوهانو د توجه وړ وگرزیدی.

اوس زما زلمی شاگرد، ښاغلی هیوادمل همت وکیٔ، او دغه سره پاشلی لیکنی او

یادونی یی سره را غونډې کړې چې دا دی اوس اصله لاس ته راغلی نسخه او د هغې نقل د متن په توګه، او زما ځنې ځېړنې او څرګندونې یې د مقدمې شرحو او تعلیقاتو په توګه یو ځای ورسره خپرېږي.

زه د ښاغلي زلمي د دې زیار منته کوم، او ده ته د پوهې او څېړنې د زیاتوالي او توفیق غوارم، چې سبا ته په حقه زموږ ځای ونیسي.

کابل، جمال مینه ۲۰،۲،۲۰۱۱

د پښتو خادم: عبدالحی حبیبی

# سریزه

د پخوانو آریایانو او د اکثرو نورو اقوامو زاړه ادبي آثار منظوم وو او منثور یې ډېر لږ پاته دي.

ویدا او اویستا دواړه منظوم وو د سنسکرت زاړه کتب هم اکثر منظوم دي. نو له دې جهته د آریایي اقوامو د نظم تاریخ تر نثر دمخه دی. په دې کې هیڅ شك نسته، چې د ژبې اساس پر نثر اېښودل کېږي مګر څنګه چې بشر خپل پخواني ادبي آثار په حافظه کې ساتله، او د لیك او تحریر فن لا نه و ایجاد سوی نو د حافظې د ساتلو لپاره نظم تر نثر آسانه و او هر کله به د آریایي اقوامو ریشیانو (شاعرانو) خپل دیني او اجتماعي مطالب نظم کول، او حماسي شاعرانو به خپل جنګي او حماسي اشعار په منظوم ډول پېودل. د ویدا قدیم آثار د دغو ریشیانو د قریحې نتایج دي، اوستا هم د زرتشت او د ده د اتباعو ګیتونه او سندرې دي، د زاړه یونان ایلیاد او اوډیسه هم د هومر حماسي سرودونه دي.

د پښتو ژبې په ادبي تاریخ کې هم موږ ته تر اسلام را وروسته، لومړی منظوم اشعار لاس ته راغلي دي، او د قدماوو په دوره کې تر (۶۰۰هـ ق) دمخه د کوم منثور اثر درک نه لرو، فقط هاشم سرواني (د سالو وږمه) یو کتاب راته معلوم دی، مګر منظوم اشعار خورا

ډیر دی چی لکه پخوانی آریایی متون سینه په سینه را نقل سوی، او وروسته په کتابو کی ضبط سوی، او تر موږ پوری را رسیدلی دی.

ځکه چی پښتو ژبه د قدیمو منظوماتو په شهادت موجوده وه، نو طبعاً به یی نثر هم درلود، مگر ښایی چی د لیك او تحریر د نه والی په سبب (نثر) نه وی ضبط سوی، او که څه هم و، هغه به د زمانی څپو وروسته وړی وی.

په دغه علت نو موږ د قدماوو په دوره کی تر (٦٠٠ ه ق) پوری د پښتو نثر نسو موندلای، او تر دغه وروسته د متوسطینو په دوره کی چی ځلور پیړی ده، د نثر نمونی لرو او نثر لیکونکی پښتانه پیژنو چی کتب یی تالیف کړی دی.

د مغلو تر تاړاک دمخه یعنی تر (٦٠٠ هـ ق) پخوا د پښتو ژبی ادبی مراکز، غور، هلمند، ارغنداو او د ترنك ورشو گانی وی، څنگه چی دغه مراکز د مغولو خونخورو لښکرو وران کړل او د مدنیت یوه بولگه یی نه پکی پریښووه، نو ښایی چی د پښتو ډیر کتب او آثار هم ورسره تباه سوی وی.

یو ټینگ دلیل سته چی د (٦٠٠ هـ ق) په حدودو کی چی د نثر کومه نمونه موجوده ده، هغه ډیره پخه او متینه او خوږه ده، د یوی ژبی نثر چی دی درجی ته را رسیږی طبعاً یی باید دمخه ابتدایی مراحل طی کړی وی، څو د طفولیت له مراتبو څخه د رشد او پخوالی درجی ته راغلی وی.

نو له دی خبری څخه استدلال کوو، چی باید ډیر دمخه لااقل دوی دری پیړی پر پښتو نثر تیری سوی وی، څو د اوومی پیړی متانت او پوخوالی یی میندلی وی.

له دی لنډو یادونو وروسته به زه د پښتو د لومړنی تر لاسه سوی نثر لیکوال در وپیژنم او بیا به یی په نثر او خصوصیاتو وږغیږم.

# سلیمان ماکو

د تذکرة الاولیاء لیکوال

(٦١٢ هـ ق)

د پښتو ژبې له پخوانو لیکوالو او نثر لیکونکو څخه چې تر اوسه معلوم سوي دي یو غټ او مقتدر لیکوال سلیمان ماکو دی.

دی د بارک خان صابزي ماکو زوی دی، چې د قندهار په ارغسان کې اوسیده، د ماکو قبیله تر اوسه هم په لږ تعداد هوري اوسي، او په ابدالیو (درانیو) کې شاملیږي. سلیمان له دې قومه یو پوه لیکوال راوتلی دی، او د پښتونخوا په غرو او رغو کې یې سیاحتونه کړي او د خپل عصر مشهور روحاني او ادبي رجال یې لیدلي دي.

دی پخپله وایي: چې په (٦١٢ هـ) تللی وم او د پښتونخوا په غرو او رغو گرځېدم، او د لویانو مراقد مې لیدل او پلټل، داسې ښکاري چې سلیمان تر دغه مفید او گټور سفر وروسته موفق سو چې د پښتو نومورو بزرگانو په احوال کې یوه تذکرة الاولیا ولیکې او د دوی ویناوې او اشعار په دې کتاب کې خوندي کړي. دا کتاب متاسفانه چې ټول اوس ورک دی، خو لومړي اووه مخه یې ما تر ١٣١٩ ش کال دمخه په قندهار کې وموندل او د هغو مخو عکسونه مې د کابل په سالنامه او بیا په پښتانه شعرأ لومړي ټوک کې خپاره کړل.

سلیمان ماکو د پښتو یو پخواني مورخ او نثر نویس دی، او د ده د نفیس او گټور کتاب دغه څو مخه د پښتو ژبې او ادبي رجالو د تاریخ لپاره داسې مفید ثابت سول چې د ادب او پښتو تاریخ یې تر آبده مرهون دی.

## سلیمان ماکو مؤرخ

د سلیمان تذکره د پښتو مشاهیرو او ادبي رجالو یو مفصل تاریخ دی چې د هر سړي احوال پکې بیانوي د هغه علمي او روحاني مقام ښیي، او بیا یې اشعار او ویناوې را نقلوي.

د تذکرې څو پاڼې چې پیدا سوي دي، دا ځیني معلومیږي چې سلیمان د پښتو مشاهیرو احوال په داسې ډول لیکله چې پلاني سړي څنگه ژوند کاوه، چیرې اوسیده، پلار، نیکه او کورنۍ یې کومه او چیرې وه؟ اوله هغه سړي څخه د خلکو په خوله او زړو کې کومه وینا او

کوم شعر پاته دی؟

دی په خپل سیاحت کی د کاملانو حضور ته رسیدلی دی او کوم مشاهیر چی مړه وه، د هغو مراقد یی موندلی او لیدلی دی او د تاریخی وقایعو په ضبط کی یی ډیر د قت کړی دی په دیباچه کی پخپله وایی:

*په سن دوولس او شپږ سوه د هجری تللی وم او د پښتونخوا په راغو او کلیو گرځیدم او مراقد د اولیاوو او واصلینو می پلټل او په هر لوری می کاملان موندل او د دوی په خدمت کی خاکپای وم او هر کله په سلام ورته ولاړ چی له سفره په کور کښېنستم او تناکی می وچاودلی د پښو بیا پاڅیدلم او له څښتنه می مرستون سوم چی احوال د هغو کاملانو وکاږم او دوی چی هغه ویناوی پاته کړی دی او پښتانه یی لولی اوس.*[1]

له دی څخه ښکاری چی سلیمان په تذکره کی خپل مشاهدات او د سیاحت لیدل سوی او کتل سوی معلومات کښلی دی، او لکه پاخه مورخان د خپلو لیدلو او کتلو څخه حکایت کوی، او یا هغه روایت لیکی چی له پښتنو څخه یی په ټینگه اورېدلی دی.

د سلیمان تذکره د پښتو د پخوانو شاعرانو په احوال او آثارو کی زموږ یو پخوانی تاریخ او پوخ ماخذ دی هغه اووه مخه چی له دی تذکری څخه لاس ته راغلی دی د دغو شاعرانو احوال پکی سته:(۱) شیخ بیټنی (۲) ملکیار غرشین (۳) شیخ اسمعیل (٤) قطب الدین بختیار. دا خبره هم باید هیره نه کړو چی سلیمان د پښتو رجالو په تاریخ کی هغه سبك نه دی تعقیب کړی، هغه چی د شیخ عطار په تذکرة الاولیا کی ټاکلی سوی و.

ځکه چی شیخ عطار یوازی د اولیاوو د زهد او تقوی حکایات سره را ټول کړی دی، مگر سلیمان د رجالو د ژوندانه احوال او د دوی اخلاق او کورنی او هم ادبی موقعیت ښیی او په دی ډول هو پوه سړی او سترگور مورخ ښکاری، نو د ده کتاب په حقیقت کی د تصوف کتاب نه دی بلکه د شعر او ادب یوه گرانبها مجموعه ده.[2]

د سلیمان په عصر کی د پارسی ژبی تذکری لیکلی سوی دی چی مشهوری یی هغه د شیخ عطار تذکرة الاولیا او بله د شاعرانو تذکره لباب الالباب ده چی محمد عوفی د (٦١٨ هـ

---

[1] تذکرة الاولیا قلمی

[2] کابل کالنی د ۱۳۱۹ کال گڼه د تاریخچه سبکهای اشعار پښتو مقاله او همدارنگه پښتانه شعرأ لومړی ټوک، ۱۳۲۰ ش د ٦٥–٦٤ مخونو تر مییځ د تذکرة الاولیا عکسونه. کابل پښتو ټولنه.

ق) په حدودو کی کښلی ده، د شیخ عطار تذکره خو تاریخی ډول کورټ هیڅ نه لری، اما تر عطار دمخه کشف المحجوب د صوفیانو مقامات او ملفوظات او اخلاق او اقوال بیانوی خو لږ لږ تاریخی احوال هم لری، د سلیمان تذکره یو څه د علی هجویری غزنوی کتاب ته ورته ده.

اما لباب الالباب چی د پارسی ژبی د شاعرانو تذکره ده، هم د دوی احوال او دقیقانه تاریخی کوایف نه لری بلکه زیاته برخه یی د دوی د اشعارو په نمونو ډکه کړی ده.

د سلیمان تذکره دا مزیت لری چی هم د رجالو اخلاق او احوال وایی او هم یی د کلام نمونی لری او هم د دوی روحانی مقامات او د تصوف برخه څرگندوی له دی جهته موږ د سلیمان تذکره د تذکره اولیأ او تذکره شعرأ تر منځ یوه جامعه نسخه گڼو او سلیمان یو بصیر مدقق مورخ او تذکره نگار بولو.

تر سلیمان ماکو دمخه د پښتو ژبی کومه منثوره نمونه موږ ته نه ده معلومه، چی پخوا به د پښتو نثر څنگه و او څه سبك او ډول یی لاره، خو د سلیمان د نثر پوخوالی او متانت دا راته څرگندوی، چی د دغه عصر نثرونه به دغسی پاخه وو او لکه د پارسی نثر چی هم په دغو غزنوی او غوری دورو کی متین او پوخ او خوږ و د پښتو نثر به هم ښه او د فصاحت اصولو ته نږدی و.

د سلیمان ماکو نثر که په تحلیلی سترگو ولیدل سی تر دغو درو عواملو لاندی یی نشو نما راته ښکاره کیږی، او په هغه ادبی محیط کی چی دی نثر وجود موندلی و، هم دا دری عوامل موجود و.

۱– د پښتو ژبی خپل اثر چی سلیمان پښتون و او د پښتو ژبی ویونکی و. نو طبیعی ده، چی دغه عامل به د ده د نثر پر ادبی بنیه او جوړښت پوره اثر درلود. او ښایی چی تر ده دمخه چی کوم نثاران موجود وو، د هغو د لیکولو سبك به هم پر ده دروند اثر لاره.

۲– په پارسی ژبه کی چی کوم لوی ادبی حرکت موجود و، او د سلیمان ماحول یی نیولی و، ضرور به یی د ده پر نثر هم اثر کړی وی.

۳– په دغه عصر کی پارسی نثر ښه رشد موندلی و، هم په غزنی او هم په خراسان او هم په هند کی خپل عروج ته رسیدلی و. تاریخ بیهقی او زین الاخبار او د محمد عوفی لباب الالباب او جوامع الحکایات تاریخ سیستان او بیا طبقات ناصری او نور کتب د دغه عصر

مهم منثور آثار دی، ځکه چې پښتو هم د دغه ادبي چاپېر په منځ کې ژوند کاوه، نو یې اغیزې هم طبیعي وې.

په دغه عصر کې عربي ادب او عربي ژبې هم پوره او بشپړ اثر کړی و. پخپله پارسي نثر هم په ابتدأ کې تر دغه اثر لاندې نشو نما وکړه، او د (۵۰۰ هـ ق) په حدودو کې چې کوم پارسي منثور کتب ولیکل سوه، د عربي ژبې اغیزې پکې څرګندې دي، ځکه چې پښتانه هم د عربي ثقافت سره په دغه زمانه کې پوره ارتباط لري، پر پښتو هم د عربي اثر سوی دی.

د سلیمان ماکو په حیاتي محیط کې دغه دری سابقه موجود وو، چې هر یو پر ادبي تحول او د لیك او نثر پر ډول باندې طبعا اثر کوي، او زه هم تر دغو درو عواملو لاندې د سلیمان نثر تحلیلوم.

## (۱) د ده پښتو

د سلیمان نثر د پښتو ژبې له خوا دوه اړخه لري، چې دواړه هم په ادبي تدقیق او پلټنه کې خورا مهم دي. یو اړخ یې د ادا طرز او جمله بندي او د عباراتو تلفیق او سره نښلول دي، چې څنګه خپل مطالب ادا کوي، څنګه جملې لیکي، او د کلام عمومي سیاق او سباق یې څنګه دی؟

دوهم د ده د نثر کلمات او الفاظ او لغات څنګه دي؟ آیا د ده په پښتو کې هم لکه پخوانی شعرأ ځینې متروک او مړه کلمات سته که یه؟ نو پخپله د پښتو ژبې له پلوه که د ده نثر وسپړل سي روان دی اغلاق او تعقید نه لري اوږدې او پیچلې جملې نه استعمالوي او د طبیعي مکالمې رنګ لري.

سلیمان د عباراتو په تلفیق او سره نښلولو کې استاد دی، او عبارات یې لنډ لنډ او واضح دي، جملې سره پریکوي او هرې مبتدأ ته بیل خبر ورکوي، د متعددو معطوفو مبتداوو د پاره په یوه خبره اکتفا نه کوي، او هم له دې جهته یې نثر وضاحت او سلاست لري. او جزیل کلام باله کیږي.

د پښتو ژبې اصلي او طبیعي رنګ هم دغه دی، چې خبرې یې پرې پرې وي، او هر کلام ځانله مستقل وي او ډیر معطوفات ونه لري، او یوه پر بله بار سوې جملې نه وي، چې پخوانی پارسي کې هم د نثر لیکلو مقبول سبك دغه و. مګر وروسته چې د مغولو د دورې ناوړه نثر

رواج سو، دغه وضاحت او جزالت او خوږ والی یی بایلود. لاندی د دوارو ژبو څخه مثالونه وګوری. د ابو الفضل بیهقی سره پریکړی او واضحی جملی: *پس رسول بر پای خاست و منشور و نامه را بر تخت نهاد و امیر بوسه داد و بوسهل زوزنی را اشارت کرد تا بایستد و خواندن گرفت.*[3]

د عطا ملك جوینی اوږده او سره نغښتلی معطوف عبارات چی څو قرنه تر بیهقی وروسته د مغولو د دوری په سبك لیكل سوی دی: *به سبب تغییر روزگار و تاثیر فلك دوار و گردش گردون و اختلاف عالم بوقلمون مدارس درس مندرس، و معالم علم منطمس گشته و طبقه طلبه آن در دست لگد کوب حوادث پایمال زمانه غدار و روزگار مكار شدند، و به صنوف صروف فتن و صحن گرفتار، و در معرض تفرقه و بوار معرض سیوف آبدار شدند و در حجاب تراب متواری ماندند.*[4]

په پخوانی پارسی کی د بیهقی او د ده معاصرینو لیك له طبیعی محاوری څخه لیری نه دی، اما د مغلو تر دوری وروسته اکثر لیکونه د محاوری له پوله دونی لیری دی چی فرق یی په لومړی نظر سړی ته ښکاری.

د سلیمان ماکو پښتو نثر هم د پارسی د پخی انشا رنګ لری. کوم نثر چی په غزنوی دوره کی له ٤٠٠ هـ ق نه تر ٥٠٠ هـ ق پوری مروج و. لاندی جملات د نمونی په ډول د سلیمان ماکو له تذکری څخه راوړل کیږی:

*نقل کاوه سی چی په روزګار د غازی شهاب الدین چی په ډیلی کی هغه ستر واکمن ټاټوبی ور وښانده او هوری مړ سو.*"[5]

## خلاصه

د سلیمان نثر د عمومی محاوری څخه لیری نه دی، جملی یی پری پری دی، وضاحت لری، مقاصد لنډ لنډ ادا کوی، د یوی جملی خبر په بله پوری معلق نه پریږدی او ځینی هسی

[3]تاریخ بهقی ص٤٨

[4]جهانکشای جوینی ج ١ ص ٤ .

[5]د سلیمان ماکو تذکره.

زاړه تعابير او ادبي مصطلحات هم لري چې اوس نسته.

د مثال په ډول *تنګاکي وچاودلي د پښو*. چې مقصد یې په خپل مسکن کې آرام کول او هوسایي ده.

*ډیر زښت یې ووژل*. چې په اوسني اصطلاح له لومړیو دوو کلمو څخه یوه کافي ده، او دواړې نه وایو او دا *زښت*–زخت هغه د دري–پارسي سخت دی، چې د تاکید لپاره په ساماني او غزنوي پارسي کې ډیر مستعمل و او اوس هم موږ په پښتو کې کله کله وایو مثلا *سخت یې وواهه*. بل ځای وایي*پر نړی د ستن ږغو وه* یعني پر دنیا یې د روحانیت او ستانه توب آوازه وه، چې اوس نه *د ستن* او نه د *ږغو* کلمات سته او نه داسې تعبیر څوک کوي. ښایي چې دا د هغه وخت تعابیر وي، چې اوس له ژبې څخه وتلي او مهجور دي.

دغسې نور ډیر کلمات په دې یو څو مخو کې مومو چې اوس یې په ژبه کې استعمال نادر دی او مړه ګڼل کیږي مثلا ګروهیدل *(ګرویدن)* مصدر پخوا موجود و، او د متقدمینو په دوره کې اصلي عنصر او ماده ګروه د عقیدې معنی در لوده، لکه چې د شیخ رضی او نصر لودي په اشعارو کې د ګروه کلمه راغلې ده، دلته د سلیمان ماکو په نثر کې د دې مادې څخه وګروهید په فعلي ډول راغلی دی، چې معنی یې *ګرویدن و عقیده کرد ده*. دا کلمه په وروستیو ادباوو کې هم مستعمله وه، مثلا خوشحال خان خټك وایي:

نه یې زړه په ما نرمیږي نه ګروهیږي
خدایه څه مې سریکار شه له کافره

بمیا *(بومیا)* پخوا د رهبر او مرشد په معنی و، سلیمان لیکي: *څو چه بمیا سو د وګړیه* یعني د عوامو رهنما سو، چې اوس دا کلمه متروکه او مړه ده.

دغسې دي:پاړکی (قطعه شعر) ستر څښتن (خدای بزرګ) ګڼون (شمار) کول (خاندان) دښن (دشمن) جوبله (جنګ) او نور کلمات راوړي چې اوس نه دي مستعمل او اکثر دغه کلمات تر ۱۰۰۰ه پورې لا هم په شعري دیوانو کې لیدل کیږي اما له محاوري څخه وتلي دي.

## ۲– د پارسي اثر

د پارسي ژبې د نثر اثر هم د سلیمان په انشأ کې ښکاری او دا د محیط بوه طبیعي اغیزه ده، چې ژبه هیڅکله ځان نسې ځنې ژغورلای، ځنې تراکیب او جملې د سلیمان

په نثر کی سته چی خاص د پارسی تراکیبو رنگ لری، مثلا مضاف الیه دمخه کول، لکه: *او تڼاکی وچاودلی* د پښو چی دغه باید داسی وی: د *پښو تڼاکی وچاودلی* او نور دغسی تراکیب چی د پارسی ژبی اثر پکی ښکاره دی.

سلیمان که څه هم د پارسی کلمات ډیر نه راوړی، او اکثرا پښتو سوچه الفاظ لیکی، خو بیا هم د ده نثر د پارسی کلماتو له خلطه نه دی خالی او دغه محیطی اثر یی قبول کړی دی، وگوری دی د *روزگار* کلمه کټ مټ هغسی استعمالوی، لکه د پارسی ژبی پاخه پخوانی لیکوال.

بیهقی لیکی: *و به روزگار سلطان ماضی چون معدان والی مکران گذشته شد.*

سلیمان وایی: په *روزگار د غازی شهاب الدین چی پر کفر یرغل و.* بل ځای لیکی: په *روزگار د شیخ بیټنی کی د ده ورور سړبن نومیده.*

دغه نور خالص پارسی کلمات هم د ده په نثر کی سته، لکه درخواست، سپاس، درود، خاکپای، خدای مهربان او نور... چی د پارسی ادبی اغیزی د سلیمان په نثر کی راښیی، او دا اغیزی په یوه مشترک چاپیر کی د ژبو تر منځ یو طبیعی او حتمی امر دی، مخصوصا د پښتو او پارسی تر منځ چی له یوی ریښی څخه دوی اریایی ژبی دی.

## ۳- د عربی اثر

د سلیمان په نثر کی تر پارسی د عربی ژبی اثر هم ډیر او دروند ښکاری او د دی علت همدا دی چی عربی په دغو وختو کی د پښتنو دینی او درسی ژبه وه، او که به چا له علمه سره مینه درلوده، هغه طبعا عربی زده کوله، ځکه علم یوازی په عربی ژبه کی و، او داسی هم ښکاری چی سلیمان یو متدین او تصوف ته مایل او د دینی علومو طالب سړی و، ځکه چی دغه ټول په عربی و نو به سلیمان عربی کتب لوستلی وی، او د ده د حیات په چاپیر کی به د عربی ادبی او دینی او تصوفی اثر خورا کلك او هم ډیر و.

د عربی اثر یوازی په پښتو نثر کی نه دی، بلکه د سامانی او غزنوی دوری د پارسی نثر په شهکارونو لکه د بلعمی تاریخ او تفسیر طبری او د بیهقی تاریخ آل سبکتگین او نورو ټولو کی د عربی نثر هسی واضح او ښکاره اثرونه لری، او د پارسی په نثر کی په څرگند ډول، نو پښتو نثر خو له یوی خوا مستقیما د عربی تر اثر لاندی و او له بلی خوا یی له پارسی نثره

استفاده کوله چې هغه هم د عربي له اغیزو څخه خالي نه و، نو له دغو دوو جهتو څخه د سلیمان په نثر کې د عربي اثرونه خورا څرګند او ښکاره دي.

یو پښتون معاصر لیکوال د سلیمان پر نثر هسې لیکي: "غټه خبره چې په دې نثر کې نظر ته راځي دا ده چې په دې کې عربي رنګ معلومیږي، جمله بندي او ادا د پارسي د عربي تأثیر لاندې ده. زه دا نه شم ویلای چې هغه وخت ګوندې د پښتو طبیعي آهنګ دغسې و،بلکه کیدی سي، چې پخپله سلیمان د عربي تعلیم یافته اوسي، نو ده چې د پښتو نثر لیکلی دی، طبعا د عربي تر اثر لاندې راغلی دی. د سلیمان په عربي تعلیم باندې دا خبره دلالت کوي، چې د ده په نثر کې عربي الفاظ لکه قطب، قدوة الواصلین، مراقد او داسې نور شته، او صحیحه خبره دا ده چې په دغه وخت کې پرته له عربي څخه بله د تعلیم ذریعه وه هم نه."

دا چې موږ وویل چې د ده په نثر کې د عربي اثر معلومیږي، د لاندې جملو څخه ښه تر څرګندیږي:

۱. وایم حمد او سپاس د لوی خاوند.

۲. نقل کاندي چې شیخ بیټني هوسید په غره د کسي باندي.

۳. سړبڼ نه درلود زامن.

٤. خدای مهربان د اسماعیل په برکت سړبڼ ته نصیب کړه دوني زامن چې تر وس تیر سو ګڼون د هغو.

٥. یکه سوه مزکه د پښتنخا د دوی په کول.

په پورته جملو کې د عربي رنګ څرګند دی. څوک چې د عربي سره آشنایي لري، هغوی پخپله پوهیږي زه نه غواړم چې د نحو او جمله بندي د اصولو په بیان چې یو رقم تحصیل د حاصل دی، خپل مضمون اوږد کړم هو دومره قدري به ووایم چې دغه جملې نن ورځ موږ په پښتو کې څه رنګ ادا کوو وګوري:

۱. د لوی خدای حمد او سپاس وایم.

۲. داسې نقل کاندي چې شیخ بیټني د کسي په غره اوسیده.

۳. سړبڼ زامن نه درلودل.

٤. مهربان خدای د اسماعیل په برکت سړبن ته دوني زامن ورکړه چې اوس د هغو ګڼون تر وس تیر شو.

۰. د دوی په کول د پښتونخوا زمکه ېکه شوه.[۱]

اوس که موږ د سلیمان ماکو دغه څو جملی په غور وګورو نو په ټولو جملو کی فعل تر خپلو متعلقو مفاعیلو دمخه راغلی دی، چی دا د عربی اثر ښکاری، مثلا که لومړی جمله په عربی وی نو به *الحمدلله العظیم* وی چی د پښتو جملی رنګ یی هم دغسی دی. او د عربی د تقلید اثر پکی ځلیږی، او دا د عربی ژبی د جمله بندی تقلید له ٤۰۰ هـ ق څخه په پارسی کی هم مروج و، چی د بیهقی دا جملی یی ښه څرګندوی: *امیر گرد بر گرد قلعه* بگشت، جنگ *جایها بدید*، ننمود پیش چشمش و همت *بلند* و *شجاعش آن قلعه* و *مردان بس* چیزی. بل ځای وایی: *امیر نشاط شراب کرد*، و ننمود *بس طربی* که *دلش سخت* مشغول بود.

په پښتو جملو کی چی د سلیمان له نثر را واخستلی سوی، کټ مټ دغه اثر څرګند دی، لکه چی هم تاسی ته ښکاره سوه دغسی هم *نقل کاوه سی* یا *هسی نقل کاندی* د عربی اثر دی، چی لیکوالو به د عنعنی پر وخت راوړ او دا رسم هم په پښتو او هم په پارسی کی پاته سوی دی.

# د سلیمان ماکو د نثر ممیزات

اوس هم چی د پښتو د لومړی نثر اساسی عناصر یعنی د پښتو او پارسی او عربی اغیزی وڅیړلی سوی یو څو مهم ادبی ممیزات هم لاندی ذکر کیږی، چی په دی نثر کی لیده سی.

## ۱. ایجاز

د سلیمان د نثر یو څرګند مزیت د جملو ایجاز دی، چی دغه ممیزه یی د پارسی له قدیمه نثره سره شریکه ده، تر غزنویانو دمخه تر (٤۰۰ هـ ق) پخوا د پارسی نثر نهایت مواجز او جملی یی لنډی دی، چی دی مطلب ته ما دمخه اشاره وکړه.

---

[۱] کابل کلنی ۱۳۱۹ ش کال ۳٤۲ مخ د مرحوم خادم لیك

## ۲. توصیف او توضیح

د سلیمان په نثر کی ځینی جملی داسی سته چې فقط د توصیف او ښو څرګندولو لپاره راوړلی سوی دی، دا مزیت د پارسی په سامانی سبك کی لږ و، خو د غزنوی دوری لیکوالو ښه پسی ډیر کړ او د مطلب د روښانولو لپاره یی ځینی پله پسی جملی راوړلی چی مقاصد ښه پسی واضح سی.[۷]

د مثال په ډول: *په ویاله د ارغسان هوسیږم او په دی ځمکو پایېږم*. بل مثال: *شیخ بیتني هوسید په غره باندی او هلته دیره و*. بل مثال: *د دوی په خدمت خاکپای وم، او هر کله په سلام ورته ولاړ*. چی په دغو مثالو کی دوهمی جملی د توضیح او توصیف لپاره راغلی دی.

## ۳. د افعالو تکرار

د پارسی پخوانی لیکوال تر غزنوی دوری دمخه د هری جملی لپاره د فعل ذکر لازم کڼی که څه هم یو فعل په جملو کی مسلسلاً تکرار لا هم سی د افعالو تکرار لکه وروسته چی یو ادبی عیب وګڼل سو، د سامانی عصر په نثر کی عیب نه و، بلکه د الفاظو تکرار او د جملو تکرار هم کیده، او دغه تکرار په اوستا او پهلوی ژبو کی هم و، چی پارسی ژبی ته راغلی و، او دا یو قدیم ادبی سنت ګڼل کیده.[۸]

د مثال په ډول رودکی د ځوانی د غاښو په صفت کی داسی وایی: *سپید سیم رده بود و در و مرجان بود، ستاره سحری بود و قطره باران بود*. چی *بود* څلور واره پکی تکرار سوی دی، یا مثلا لکه دا جملی چی د (۳٦۰ هـ ق) د حدودو دی: *من خواستم که کتابی بنا کنم و هر چه شایسته اندرو یاد کنم... و بس قوتها شان پیدا کنم*.[۹] د سلیمان په نثر کی هم دغه د افعالو تکرار سته چی د قدیمو نثرو اثر دی او کله دونی ډیر افعال ذکر کوی چی په یوه لیکه کی څو مکرر فعلونه راوړی، د مثال په ډول: *بختیار په پښتو سندری کړینه، اوښی توینه، خدای ته ناری کړی غلبلی کړی، پارکي لرینه*. و ګوری پنځه فعله په یوه سطر کی سره یو ځای سوی دی، چی دوه کټ مټ تکرار هم دی.

---

[۷] سبك شناسی ج ۲ ص ٦۹

[۸] سبك شناسی ج ۲ ص ۵۵

[۹] الابنیه عن حقایق الادویه، د ابو منصور علی هروی لیك

دلته باید دا هیر نه سی چه د ژبی دغه طبیعی او روان سبك ډیر ښه دی، او د افعالو د حذف او عطف ناروا دود وروسته رواج سوی دی، چی کله کله د کلام رنگ او خوند هم ور واوړی. موږ باید په اوسنی نثر کی دغه د افعالو د حذف بدعت رواج نه کړو، او د قدیم طبیعی او خوږ سبك پیروی وکړو.

## ٤. د روابطو حذفول

لکه دمخه چی مو وویل قدماوو د فعل تکرار عیب نه باله، او یو فعل یی مکرر هم د څو جملو په پای کی راوړ، خو تر (٤٠٠هـ ق) را وروسته په غزنوی دوره کی لیکوالو په مطعاطفو جملو کی په قرینه سره د ځینو روابطو حذف رواج کړ، او کلام ته یی ښو راز نوی بلاغت وباخښه. د مثال په ډول د بیهقی په دی جملو کی *است* رابط فعل محذوف دی: خیمه *مسلمانی ملك است و ستون پادشاه و طناب و میخها* رعیت. وروسته *ماند* فعل دری ځایه حذف سوی دی:*پس چون نگاه کرده آید، اصل ستونست، و خیمه بدان بپا بست و هر گه وی سست شد و بیفتاد نه* خیمه *و نه طناب و نه* میخ. هم چی باید داسی وای: نه خیمه ماند، نه طناب ماند نه میخ ماند.[10]

د سلیمان نثر لکه د تکرار افعال زوږ خاصیت چی لری دغسی هم د غزنوی دوری د پارسی رنگ پکی ښکاری، او اکثر افعال حذفوی، او له تکراره یی ځان ژغوری. د مثال په ډول:*وایم حمد و سپاس د لوی خاوند، او درود پر محمد مصطفی چی دی بادار د کونینو او* رحمت د *ثقلینو*...چی یو *وایم* له درو ده سره او بل *دی* له رحمته سره محذوف دی.

## ٥. د ترمیم حروف

د سلیمان د نثر یوه بله مهمه ممیزه دا ده چی د افعالو په پای کی د ترنم یو نون زیاتوی. او دا هغه خاصیت دی، چی وروسته د پیر روښان او درویزه په سبك کی خورا ډیر سوی او یو فنی رنگ یی موندلی دی، یعنی د مسجعو جملو په پای کی د ترنم یو نه زیاتیږی. دا ترنم د پښتو لنډیو په آخرنیو سلابیلونو کی عام دی، لکه خورینه، کوینه، راوړینه، د خوری، کوی، او راوړی حالی افعالو پر ځای. مثالونه: او سندری کړینه، یا اوښی تویوینه یا پاړکی لرینه. چی دلته د کړی، تویوی، لری افعال کافی دی او *(نه)* زاید دی.

---

[10] سبك شناسی ج ۲، ص ۷۲

## سجع او موازنه

پخوانو لیکوالو به کله په جملو کی د سجع او موازنی په ډول کلمات راوړل چه د پارسی نثر په سامانی او غزنوی دوره کی دا رعایت لږ و، مگر وروسته چی فنی نثر د عربی په تقلید پیدا سو، دا کار ډیر مبتذل او عام سو. بیهقی هم کله داسی اشجاع لری، د مثال په ډول: *فصلی خوانم از دنیای فریبنده، بیك دست شکر پاشنده، و بدیگر دست زهر کشنده.*[11] د سلیمان نثر که څه هم مسجع نه دی خو لکه بیهقی او نور کله داسی موازن او مسجع کلمات لری او لکه چی وویل سوه، د افعالو په پای پوری یونه د ترنم لپاره ښبلوی، چی مسجع هم سی دا جملی هم دغسی رنگ لری: *او مراقد اولیا او واصلینو می پلټل او په هر لوری می کاملان موندل*.یا په جوبله کی *ملکیار دا پارکی وویل*، چی *غازیان وپاریدل او* په څیر د زمریو *ور توی سول*. دا د سلیمان په نثر کی ځنی داسی اثرونه نه سته چي د پارسی د سامانی او غزنوی دوری سره نژدی کیږی او کوم ادبی جریان چی تر ده دمخه دری څلور قرنه په منځنی آسیا کی موجود و سلیمان له هم هغه څخه متاثر ښکاری. اما دا زموږ استنتاج او څیرنی چی فقط د ده د کتاب پر یوه څو مخو باندی سوی دی، په کامل ډول د هغه عصر د نثر عمومی ممیزات نه سی ښوولای، البته که بل یو منثور اثر له دغه عصره، زموږ په لاس کی وای نو به مو د حتم او یقین په ډول څه ویلی وای. له دی جهته هم له دغه بحث او پلټنی تکمیل هغه وخت ته پریږدو، چی د پښتو نثر نوری زړی نمونی پیدا سی. او ښایی چی دا کار زموږ آیندگان پای ته ورسوی. او دغه اوسنی ارمانونه او منتج معلومات یا نقض کی یا تایید.

## د سلیمان د نثر ځینی ناوړ ترکیبونه

تر اوسه موږ د سلیمان د نثر ښیگړی در وښودلی، او د پارسی او عربی کومی اغیزی چی پکی ښکاری تحلیل سوی. په دی نثر کی ځینی غوټه او سره نغښتلی عبارات او تراکیب هم سته چی ناوړ او غیر متحسن ښکاری. ځکه د کتاب بشپړه نسخه نسته، او هم دا څو

[11] سبك شناسی ج۲، ص۷۳

پاڼی چی پیدا سوی دی په خورا بد خط دی، او سړی نسی ویلای چی دغه تعقیدات او ناوړه تراکیب پخپله د مولف او که د ناسخ او لیکونکی تصرف یا سهو ده؟

موږ چی د دغو څو پاڼو شیاق او سباق ته گورو، ځکه چی د مولف نثر سهل روان او خوږ دی نو دا ویلای سو، چی دغه یو څو جملی او مغلق تراکیب به د ناسخ تصرف یا سهو وی.

دا لاندی تعابیر څرگند او خواږه او د بلاغت له اصولو سره سم په نظر نه راځی: *موسی چی ستر پلار و د قطب تللی و له بختیارانو څخه* او میشت و پر *ایواد چی سند باله سی. لرغونی برخه زوی د موسی شیخ احمد ته لوی ستانه ورکړ سوی دی، د سنزر لاس ونیو* وگروهید *او پر نړی د ستن ړغو وه.*

# متن

بسم الله الرحمن الرحیم

وایم حمد و سپاس د لوی خاوند او درود پر محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم چی دی بادار د کونینو او رحمت د ثقلینو، لوی لوی رحمتونه دی وی د هغه استازی پر آل او یارانو چی دواړه جهانه په دوی دی روښان اما بعد زه غریب خاوری سلیمان زوی د بارک خان ماکو سابزی چی په ویاله د ارغسان هوسیږم او په دی مځکو پایېږم، په سن دولس شپږ سوه د هجری تللی وم او د پښتنخا په راغو او کلیو گرځیدم او مراقد او اولیا او واصلینو می پلټل، او په هر لوری می کاملان موندل، او د دوی په خدمت کی خاکپای وم او هر کله په سلام ورته ولاړ.

چی له دی سفره په کور کی کښینستم او تناکی می وچاودلی د پښو، بیا پاڅیدلم او له ځښتنه می مرستون سوم چی احوال د هغو کاملانو وکاږم او د دوی چی هغه ویناوی پاته کړی دی او پښتانه به لولی اوس.

## ذکر قدوة الواصلین شیخ مشایخ بیټنی

چی د خدای په پیژندګلوی تر ټولو، لوی او بزرګ، نقل کاندی چی شیخ بیټنی هوسید په غره د کسی باندی او هلته ډیره او ده به هر کله ښښتن باله او روزه به و، په شپو به د خدای په عبادت بوخت و.

نقل هسی کاندی یارانو چی په روزګار د شیخ بیټنی کی د ده ورور چی سړبن نومید، او پر شیخ هم خورا ګران و، سړبن نه درلود زامن او هر کله به ویل خپل ورور ته، بیټنی خپل زوی اسماعیل ورکاوه او لوی سو د سړبن په کاله. خدای مهربان د اسماعیل په برکت سړبن ته نصیب کړه دونی زامن چی اوس تر وس تیر سو ګڼون د هغو، د اسماعیل مرقد مبارک واقع دی د کسی پر غره، چی زه هلته تللی وم.

نقل کاندی چی بیټنی سپین ږری سو، نو ده به هر کله ښښتن ستایه، او رب ته به یی درخواست کاوه چی زما په کاله او د سړبن او غرغشتی په کول کی برکت کښیږده، بادار قبول کړه د ده درخواست، او ډکه سوه زمکه د پښتنخا د دوی په کول.

نقل کاوه سی چی شیخ بیټنی به ډیر تر ډیر دا سندری لولی او د کسی غره کی به ګرځیده په شپی:

| | |
|---|---|
| لویه خدایه، لویه خدایه | ستا په مینه په هر ځایه |
| غر ولاړ دی درناوی کی | ټوله ژوی په ځاری کی |
| دلته دی د غرو لمنی | زموږ کیږدی دی پګی پلنی |
| دا وګړی ډیر کړی خدایه! | لویه خدایه، لویه خدایه! |
| | |
| دلته لږ زموږ اور بل دی | ووړ کورګی دی ووړ بورجل دی |
| مېنه ستا کی موږ میشته یو | بل د چا په مله تله نه یو |
| هسك او مزکه نغښته ستا ده | د مړو وده، له تا ده |
| دا پالنه ستا ده خدایه! | لویه خدایه، لویه خدایه! |

نقل کاوه سی چی په روزګار د غازی شهاب الدین چي پر کفر یرغل و، شیخ ملکیار چی د غرشین ستانه و هم ملګری و د شهاب الدین چی په ډېلی کی هغه ستر واکمن ټاټوبی

وروښانده، او هم هوری مړ سو.

نقل کاوه سی چی په جوبله کی مسلمانان تر شا ولاړه، او کفارو بری وکړ، لیری نه و چی مسلمانان سی د کفارو په کټارو پینا، او دښنه بری وکړی، چی ناڅاپه شیخ ملکیار راغی، او پر دښن (یی) یرغل وکاوه او ډیر زښت (یی) ووژل.

نورو مسلمانانو هم د ملکیار تر اړخ توری وکښی او سره ومروړل (یی) دښنه. ستر ښځتن دوی ته په مړانه د شیخ ورکړه لو سوبه او بری چی پخوا هم نه و په برخه سوی د چا هیڅکله، په هیڅ ځای کی په جوبله کی ملکیار دا پاړکی وویل، چی غازیان وپاریدل، او په ځیر د زمرو ور توی سول:

ښځتن مو مل دی — اوس مو یرغل دی
ایواد د بل دی — غازیانو ګوری
ښځتن مو مل دی

توری تیری کړی — دښن مو پری کړی — منګولی سری کړی
څه له به تښتو
ښځتن مو مل دی

ګه ټینګ کړو زړونه — پر بری یونه — چی زمری یونه
اسلام را څخه دی
ښځتن مو مل دی

غازیانو راسی — ټول شا و خوا سی — د شهاب په ملا سی
د شهاب په ملا سی
ښځتن مو مل دی

نقل کاوه سی چی شیخ ملکیار ستانه به تل تتله د شیخ اسماعیل ستر ستانه پاړکی ویل او ږغ به (یی) کاوه داشیخ د سرڼن زوی و:

تښته وکړه له ابلیسه — چی ابلیس لعین ښکاره سی
هلته ورکه پلوشه سی — ټول نړی توره تیاره سی
سړی وران سی له ابلیسه — غوغ د پس په کټاره سی
که هر چا ابلیس خرڅ کړ — نو بی هلته ننداره سی

که سړی ابلیس ته پړ سو　　　　نو پر کور د ویر ناره سی

نقل کاوه سی چی بختیار می ستر ستانه و، له د نه څرګند سوی دی، هغه کرامات چی مو وګروهید او وویل موسی چی ستر پلار و د قطب تللی و له بختیارانو څخه او میشت و پر ایواد چی سند باله سی، لرغونی برخه زوی د موسی شیخ احمد ته لوی ستانه ورکړ سوی (و) د سنزر لاس (یی) ونیو وګروهید او پر نری (یی) د ستن ږغو وه، او د خدای وګړیه به (یی) را بلل په سمی څو چی بمیا سو د وګړېه. بختیار په پښتو سندری کړینه، اوښی تویوینه، خدای ته ناری کړی، غلبلی کړي، پاړکی لرینه چی یو یی دا دی:

ویر می زړه سوری سوری کړ　　　　راته وګوره ملوکی!
په بیلتون کی دی وباسم　　　　له خوږ منه زړګی کوکی
راته وګوره ملوکی!
راته وګوره ملوکی!

د بیلتون اورونه بل دی　　　　هر ګړی می زړګی سوځی
لیونی یمه د مینی　　　　سوځم زه لکه پیلوځی
راته وګوره ملوکی!
راته وګوره ملوکی!
غوړولی دی اوربل دی　　　　اور زما په زړګی بل دی
زه بختېار خاوری ایری شوم　　　　په اور سوی می کوګل دی
راته وګوره ملوکی!
راته وګوره ملوکی!

# تعلیقات

د دی کتاب دغه څو پاڼی چی دمخه راوړل سوی، په هغو کی د شیخ بیټنی ذکر داسی سوی دی: *نقل هسی کاندی یارانو چی په روزګار د شیخ بیټنی کی د ده ورور چی سړبن نومید، او پر شیخ هم خورا ګران و، سړبن نه درلود زامن او هر کله به ویل خپل ورور ته، بیټنی خپل زوی اسماعیل ورکاوه او لوی سو د سړبن په کاله. خدای مهربان د اسماعیل په برکت سړبن ته نصیب کړه دونی زامن چی اوس تر وس تیر سو ګڼون د هغو...*[12]

نعمت الله هم دغه عنعنه په مخزن افغانی کی هسی لیکی: *نقل است که سربن برادر کلان بیتنی مفلس بود و از سعادت فرزند هم محروم بود. روزی سربن به خانه برادر خود که شیخ بیتنی باشد آمده عرض کرد که ای برادر! دعا تو در باب جمیع خلایق مستجاب است در باب من توجه نمیفرمایی. حضرت شیخ بیت فرمود که یك پسر مرا ببر و پرورش نما... آخرالامر شیخ پسر خود اسماعیل را به برادر خود سربنی داد...*[13] په دی ډول زموږ لمړی مورخ سلیمان ماکو قول خو تر نعمت الله څلور سوه کاله دمخه دی. مګر یو له بله ربط او نژدیوالی سره لری او دا ښکاره کوی چی تر زرم هجری کال مخکی هم د شیخ بیټنی له بابته پښتنو معنعن او مستند روایات درلودل.

د شیخ بیټنی نور روایات موږ ته نه دی معلوم او نه د ده د ژوند وخت مورخانو تصریح کړیدی. فقط له پټی خزانی له لیکونو څخه ښکاری چی اسماعیل د بیټ نیکه زوی د خرښبون معاصر و، دغه سړی په کال ٤١١ هـ ق مړ سوی دی، نو چی د اسماعیل د ژوند وخت د ٤٠٠ هجری حدود وی، ښایی چی پلار او اکا یی هم د ٣٥٠ ه په حدودو کی ژوندی وی.

## د شیخ بیټنی اشعار

د پښتو په پخوا نو اشعارو کی د شیخ بیټنی یو مناجات ډیر قیمیتی دی، او دا ادبی ټوټه سلیمان ماکو پخپله تذکره کی هسی راوړی: *نقل کاندی چی شیخ بیټنی سپین ږیری*

[12] د سلیمان ماکو تذکرة الاولیا

[13] مخزن افغانی قلمی

*سو، نو ده چې هر کله ځښتن ستايه، او رب ته به يې درخواست کاوه چې زما په کول او سړين او غرغښت په کول برکت کښيږده، بادار قبول کړ د ده درخواست، او پکه سوه ځمکه د پښتونخوا د دوی په کول. نقل کاوه سي چې حضرت شيخ بيټني به ډېر تر ډېره دا سندری ولولی او د کسی غره کی به گرزيده په شپې:*

*لويه خدايه، لويه خدايه!* *ستا په مينه په هر ځايه*

لکه چې وويل سوه، دا شعر د ۳۵۰ه په حدودو اړه لری، او له الفاظو او کلماتو يې هم دغه مطلب ښکاری هغه لغات او کلمات چې پکې راغلی دی، اوس ځينی په دغو معناوو مړه دی، مثلا ژوی اوس ځوک د مخلوق او حيوان په معنی نه وايی، فقط په زړو ادبياتو کی کله کله وينو او که دغه کلمه په فعلی معنی واخلو يعنی (ژوند کوی) دا تعبير هم زوړ دی، او اوس مستعمل نه دی. دغسی هسك هم دلته د آسمان په معنی دی او دا کلمه پدغه مفهوم ډېره زړه ده، پخوا يې آسمان ته هسك وايه مگر اوس هر لوړ شی ته هسك وايو او دا لغوی تحول وروستنی دی. لکه د عربی سما چې آسمان ته هم وايی، او د هر ځای لوړي خوا ته هم وايی.

پر دی شعر د پرديو ژبو اغيزه هم لږ ده او له هغو زړو اثارو څخه دی کوم چې په غرو کی ويل سوی دی، او د عربی او پارسی ژبو له اغيزو څخه تش وی، لکه د امير کروړ او لوديانو اشعار، مثلا په ټول شعر کی يوه پردی کلمه نسته او فقط د خدای مشترکه کلمه لری، چې هغه هم ښايی د پښتو په ريښو کی ډېره نژدی وی، او د دی سوچه توب علت هم دا دی چې بيټ نيکه په کوه سليمان کی اوسيد او پر ژبه يې د نورو ژبو اثر نه و سوی. د شعر وزن او عروض هم د پښتو ملی بدلو ته ډېر ورته دی او يو تکرار کيدونکی کسر لری (لويه خدايه، لويه خدايه) چې دغه قديم ادبی رنگ تر اوسه هم د پښتنو په بدلو کی ليدل کيږی، او ښکاری چې يو پخوانی ادبی مزيت دی، دا شعر د مضمون او ادبی فکر له پلوه هم پخوانی اريايی سندرو ته ورته دی، ځکه چې په پخوانو اريايی اقوامو کی (کوله–کول) ډېر اهميت درلود ، او پر دغه کول باندی اکثر اجتماعی تشکيلات بنا وو، او دوی هر کله خپلی کورنی او کهولونه ډېرول او کورنی يې د ټولو نعمتونو مرکز گڼله.[١٤] د شيخ بيټني دا شعر که له ريگويدا سره مقابله کړو، نو د مضمون له پلوه له دی مناجات سره نژديوالی لری: خدای د ژوند واکمن دی، مالك الملك دی، دی ښاغلی کورنی سرو ته ورکوی. خدايه موږ ستا مريی يو، بی اولاده، بی

---

[١٤] د گوستا لوبون تمدن هند ص ١٨٨

## اسماعیل

د پښتو مورخان او د آسمآءالرجال خاوندان لیکی چی اسماعیل په اصل د شیخ بیټنی زوی، خو د خپل تره سړبن په کور کی لوی سوی و نو ځکه په سړبن مشهور دی، لکه سلیمان ماکو چی لیکی: *اسماعیل د شیخ بیټنی په کور کی لوی سوی و، او د سلیمان په غره کی میشته او هم هوری وفات سو.* دا مورخ وایی: *د اسماعیل مرقد واقع د کسی پر غره چی زه هلته تللی وم...*

دغه روایات نعمت الله هم کټ مټ په مخزن کی داسی تایید کوی: *چون اسماعیل به سن رشدی رسید و از ریاضات شاقه به مراتب ولایت رسید و این شیخ اسماعیل سړبنی پسر حضرت بیټ است...شیخ اسماعیل سړبنی قدس سره صاحب عبادت و ریاضت شاقه بود و مقتدای وقت به علوم ادنی، کاشف اسرار طریقت و حقیقت بوده در ولایت (روه) چون به وطن مألوف رسیدند به مقام خواجه منزل گرفتند و خلایق از جایهای دور به ملازمت شتافتند.* سلیمان ماکو او نعمت الله هروی دواړه وایی چی د اسماعیل د ژوندانه ځای کوه سلیمان و، بل ځای نعمت الله مورخ تصریح کوی چی د ده مزار په هغه ځای کی دی چی وازه خوا یی بولی او وازه خوا د سلیمان د غره په لمنو کی ده. علاوه پر دغه په پټه خزانه کی هم د اسماعیل احوال لیکل سوی او وایی چی دی د خرښبون معاصر و، ځکه چی د خرښبون وفات په ٤٢١ ه کی دی نو موږ د اسماعیل د ژوند عصر هم دغه ګڼو.[16]

اسماعیل د خپلي کورنی مشهور عابد او د خدای دوست سړی و، د مخزن افغانی له روایاتو څخه ښکاری چی دی له خپله کوره په سیاحت هم تللی و، او له لویو اولیاوو سره ملاقی سوی و.

---

[15] ریګویدا، باب ۷، ف ٦، سندره ۷

[16] پټه خزانه د ۲۱

## د اسماعیل اشعار

د اسماعیل اشعار موږ ته په دوو وسیلو را رسیدلی دی، لومړی شعر یی هغه دی چی سلیمان ماکو پخپله تذکره کی په دی ډول را نقل کړی دی: *نقل کاوه سی چی شیخ ملکیار ستانه تل تر تله د شیخ اسماعیل ستر ستانه پارکی ویل او ږغ به یی کاوه دا شیخ د سړبن زوی و.*

*تنبته وکړه له ابلیسه*          *چی ابلیس لعین ښکاره سی*

ټول پارکی په متن کی راغلی دی. د اسماعیل یو بل شعر چی د ده پر خاندانی احساساتو دلالت کوی ، د پټی خزانی لیکوال په دی شرح لیکی: *هسی وایی* چی یو وقت *خرشبون بابا د اسماعیل د سړبن او بیټنی نیکه په مخ کی ناست و، د دوی کور و د کسی پر غره نو خرښبون د پلار او تره له خوا په تګ او رخصت ماذون سو، اسماعیل نیکه داسی ناری وکړلی:*

| | |
|---|---|
| که یون دی یون دی | مخ کی بیلتون دی |
| که وروره وروره | خرښبون وروره |
| ته چی بیلتون کړی | زما ویر وګوره |
| چی ځی مرغی له | توری کرغی له |
| همزولی پاته | ځی چی برغی له |
| د خدای دپاره | خرښبون یاره |
| چی هیر مو نه کړی | زموز کول واړه |
| زړه می رپیږی | یار می بیلیږی |
| بیلتون یی اور دی | ځان په سوځیږی |

لکه چی معلومه ده اسماعیل یو روحانی او د متصوفینو مل سړی و، نو ځکه د ده په لومړنی شعر کی د وعظ او تلقین او نصیحت رنګ ستته. او ځینی عربی لغات هم پکی راغلی دی، چی د ده روحانی حیات ښکاره کوی، اما دوهم شعر خاص په ملی وزن دی او د پښتو ژبی د مخصوصو عروضو او آهنګ نمایندګی کوی، او پردی لغات هم نه لری، نو ځکه ویلای سو چي دا شعر هم د پښتو ژبی په زړه دوره اړه لری، او په هغو اشعارو کی حسابیږی، چی

د نورو ژبو اثر پر لږ سوی دی، او داسی ناری تر اوسه هم د پښتو ژبی په افسانو کی سته چی شعری وزن او عروض یی مخصوص دی، او په یوه خاص آهنګ ویل کیږی.

## ملکیار غرشین

غرشین د پښتنو یو مشهور ستانه قوم دی، چی پخوا یی یو وچ غر سر سبز او آباد کړی و، نو ځکه دوی غرشین بولی، او دا قوم د کندهار خواوو کی اوسی او په شمیر ډیر لږ دی.[17]

ملکیار له دغه قومه یو خورا ستانه او مشهور سړی دی، چی د پښتنو مورخانو د ده ذکر پخپلو مشاهیرو کی راوړی دی. نعمت الله هروی لیکی چی: *ملکیار د شیخ ابوبکر طوسی معاصر او په ډیلی کی یی یو ځای درلود، چی سلطان شهاب الدین غوری د ملتان د یرغل پر وخت ده ته بخښلی و، او د ده مرقد هم هوری دی.*[18]

دا روایت چی نعمت الله کښلی دی، څو سوه کاله دمخه سلیمان ماکو همدغسی روایت راوړی دی او ځنی ښکاری چی د ملکیار د ژوند وخت د سلطان معز الدین غوری عصر و او دی په جګړو کی د سلطان ملګری هم و ځکه چی سلطان لومړی پلا پر ملتان په ۵۷۱ ه حمله کړی وه، نو د ده د حیات زمانه هم په دغو وختو کی تخمین کولای سو.

سلیمان ماکو د ده په احوال کی هسی لیکی: *نقل کاوه سی چی په روزګار د غازی شهاب الدین چي پر کفر یرغل و، شیخ ملکیار چی د غرشین ستانه و هم ملګری و د شهاب الدین چی په ډېلی کی هغه ستر واکمن ټاټوبی وروښانده، او هم هوری مړ سو. نقل کاوه سی چی په جوبله کی مسلمانان تر شا ولاړه، او کفارو بری وکړ، لیری نه و چی مسلمانان سی د کفارو په کټارو پیپا، او دښنه بری وکړی، چی ناڅاپه شیخ ملکیار راغی، او پر دښن (یی) یرغل وکاوه او ډیر زښت (یی) ووژل. نورو مسلمانانو هم د ملکیار تر اړخ توری وکښی او سره ومروړل (یی) دښنه. ستر ښتن دوی ته په مړانه د شیخ ورکړه لو سوبه او بری چی پخوا هم نه و په برخه سوی د چا هیڅکله، په هیڅ ځای کی.*[19]

---

[17] حیات افغانی ص ۱۵۲

[18] مخزن افغانی قلمی

د سلیمان ماکو له دغه بیانه ښکاری چې ملکیار یو غښتلی او توریالی سړی هم و، او د توری او ادب له څښتنانو څخه و چې د سلطان سره یې په جهادو او جګړو کې ملګری کړله، داسې ښکاری چې ملکیار تر جنګیالی توب او توریالی توب علاوه، ادبی ذوق هم درلود، پخپله هم شاعر و، او د نورو پښتنو شاعرانو اشعار یې تل لوستل، لکه چې سلیمان ماکو د شیخ اسماعیل سړبنی شعرونه د ملکیار له خولی را نقل کړی دی.

د زهد، تصوف او عرفان له پلوه هم ملکیار ښه شهرت لری. او مورخان د ده له نامه سره پران هم لیکی او د ده عرفانی شهرت دونی ډیر و چې تخمینا دوه نیم سوه کاله وروسته سلطان فیروز شاه (۷۲۵–۷۹۰ هـ ق) ډیلی ته نژدی فیروز آباد بنا کړ نو هلته دی پاچا د شیخ ملکیار پران په یادګار یو سرای هم جوړ کړ چې د هغه عصر مورخ ضیأ الدین برنی یې په ۷۵۸ ه ق کال ذکر کوی لکه چې مورخان تصریح کوی.[۲۰] ملکیار په دهلی کی اوسیده، او هم هوری مړ سو، او په دغه ښار کی د شیخ ابوبکر طوسی له مزاره سره یو ځای ښخ دی او سلیمان ماکو د ده یو شعر داسی را نقل کړی.

پر هغه میدان کی شیخ ملکیار د سلطان معز الدین د لښکرو سره یو ځای جنګیدی او نژدی و چې د سلطان لښکر ماته وکړی، نو دی توریالی ادیب او عارف یوه د ننګ او جنګ سندره وویله، او لښکریان یی همت شجاعت او توریالیتوب ته تشویق کړل. څو په پای کی بریالی سوه، او د جنګ پر ډګر یی سوبه په برخه سوه.

سلیمان لیکی: په جوبله کی *ملکیار دا پارکی وویل غازیان وپاریدل او په څیر د زمریو ور توی سول.*

*ښتن مو مل دی        اوس مو یرغل دی        هیواد د بل دی*

د ملکیار دا شعر چې په بشپړ ډول د تذکرة الاولیا په متن کی محفوظ دی، د قدیمو اقوامو د حسیاتو او رجز رنګ لری، له هغو سندرو څخه دی، چې پخوانو پښتنو به د جګړی پر میدان ویلی، او مقصد یی دا و چې د زلمو احساسات تاوده کړی او پر جنګ یی ښه وپاروی. د دی شعر عروضی کیف او الفاظ او کلمات سوچه دی. او لکه نور وګړنی (عوامی) اشعار یو تکراریدونکی کسر هم لری. چې د هر بند په پای کی ویل کیږی، او د پښتو د

[۱۹] تذکرة الاولیا

[۲۰] تاریخ فیروز شاهی ص ۱۳٤

مخصوصو اشعارو یو ښه خاصیت دی. شاعر په حقیقت کی یو مبلغ هم دی، او په هر ځای او هره موقع کی د خپلو ویناوو د اغیزمن کولو لپاره د بیان طرز او اسلوب داسی ټاکی چی د ده وینا پر اوریدونکو باندی اغیزه وکړی او د شعر مقصد حاصل شی.

په دی پاړکی کی هم ملکیار د غوری سلطان د جنګیالو د پارولو دپاره دوی ته داسی خطابونه کړی دی، چی باید په اوریدلو یی متاثر سوی وی، او په دوی کی یو ملی او دینی احساس پیدا سوی وی. دا پاړکی بیله نومو نور ټول سوچه پښتو دی، او په آخر پاړکی کی (ملا) د ملګری او همراهی په معنی زړه کلمه ده، چی د اسعد سوری په قصیده کی هم راغلی ده. او له دی څخه هم ښکاری چی دا شعر د پښتو ژبی په قدیمه دوره اړه لری، او په دغه وخت کی لا داسی قدیم کلمات مړه نه وه او له استعماله نه وه لویدلی. د پښتو په پخوانیو اشعارو کی د امیر کروړ سوری تر شعر وروسته دا لومړی جنګی اثر دی، مګر فرق یی دونی دی، چی امیر کروړ پخپل شعر کی د یوه زبردست او غښتلی قاید رنګ لری او د یو نامور اتل په ډول شعر وایی خو ملکیار دلته د یو مبلغ په دود خبری کوی، او غواړي چي ملي احساسات په ديني تبليغ کي وغورځوي او له خپله عرفانی مقامه هم کار واخلی، او د شعر په وسیله د لښکرو روح تقویه کړی نو ملکیار په پخوانو شاعرانو کی هم عارف و هم شاعر، هم جنګیالی او دا دری سره خواوی د ده په شعر کی ستِه.

## قطب الدین بختیار

قطب الدین د احمد زوی د موسی لمسی په قوم پښتون بختیار او د خپل عصر له نومیالیو څخه چی تر اوسه هم په هند کی لوی شهرت لری. پردیو مورخانو دا سړی نه دی پیژندلی او د ده پښتونوالی ذکر یی نه دئ کړی. مګر د پښتنو مورخانو دی د پښتنو په عرفانی مشاهیرو کی راوړی دی. نعمت الله په مخزن کی د ده مناقب په تفصیل راوړی، او داسی وایی: حضرت *خواجه قطب الدین بختیار کا کی قدس الله سره نام پدر شان احمد بن موسی است ساکن اوش بود که از توابع بغداد است، و تولد آن برگزیده در سنه پانصد و هفتاد و پنج اتفاق افتاد،* چون *سال عمر ایشان به بیست و پنج رسید،* حضرت *معین الدین سجزی با آن مکان تشریف آورد خواجه قطب الدین بختیار دست انابث بذیل هدایت ایشان در آورده مرید شد...بعد بر فاقت شیخ جلال الدین* متوجه *هندوستان شدند در بلده ملتان به*

*غوث العالم شیخ بهاالدین ذکر یا ملاقات نمودند...*[۲۱]

په دی ډول نعمت الله د پښتنو مورخ قطب الدین بختیار د خپل کتاب په ډیرو ځایو کی دی (قطب افغان) بولی، او د ده د نورو هم قومانو مشاهیرو نومونه هم راوړی لکه خواجه یحیی بختیار، شیخ شهاب بختیار شاه ابوبکر بختیار او نور.

دا خو ښکاره ده چی بختیار د پښتنو یو خورا مشهور او ستانه قوم دی، چی تر اوسه هم د سلیمان غره په شا او خوا کی پوندگی او سوداگری کوی، نو ځکه چی پردی مورخان د پښتنو په دغه قوم نه و خبر نو یی قطب الدین پښتون نه دی لیکلی، تش د ده سره بختیار لیکی، فرشته وایی چی دی په اوش کی زو کړی دی، چی د ماوراٴ النهر له ښارو څخه و[۲۲] ابو الفضل هم دی د فرغانی د اوش بولی.[۲۳]

اوش یا اوچ خو دوه زاړه ښارونه وه چی د سیحون پر هغه بله غاړه ودان وه[۲۴] ابن خردابه وایی: دا یو لوی کلی و چی له قبا څخه اوه فرسخه لیری و او اوزگند ته لس فرسخه پروت و[۲۵] یاقوت هم دا دوه کلی بیل بیل یادوی اوش له فرغانی څخه او اوچ د سیحون پر غاړه کښی[۲۶] نو که موږ د نورو مورخانو دغه قول چی قطب الدین په اوش کی اوسیده منو ځکه چي د ده پښتنواله پښتنو مورخانو تصدیق کړی ده، نو دا ویلای سو چی د ده نیکه یا پلار به هغی خوا ته تللی او قطب الدین به هلته زو کړی وی. دلته دا خبره هم د غور وړ ده چي زموږ پښتون مورخ سلیمان ماکو په خپله تذکره کی د دی قطب الدین ذکر داسی کړی دی*نقل کاوه سی چی بختیاری ستر ستانه و، له د نه څرگند سوی دی، هغه کرامات چی مو وگروهید او پر نړی (یی) د ستن پلار و د قطب تللی و له بختیارانو څخه او میشت و پر ایواد چی سند باله سی.*[۲۷]دا روایت خو د قطب الدین د نیکه تگ له خپله وطنه ثابتوی، مگر د ماوراٴ النهر پر ځای

---

[۲۱] مخزن قلمی افغانی

[۲۲] تاریخ فرشته ص ۳۲۸

[۲۳] آئین اکبری ج۲ ص ۱٦۹

[۲٤] حدود العالم ص ۲٤

[۲٥] المسالك و الممالك ص ۳۰

[۲٦] معجم البلدان ج۱ ص ۳٦۸

سند ښيي که موږ دقت وکړو، په سند کی هم په دغو وختو کی یو ښار ودان و چی اوچ یا اوچه بلل کیده، مورخان یی د سلطان معز الدین غوری په فتوحاتو کی د ملتان سره یو ځای راوړی[28] او دا ښکاری چی اوچ د سند یو مشهور ښار و.

نو که د قطب الدین پلار او نیکه په دغه ښار کی اوسیدلی وی ځکه چي د قطب الدین او د ده د پلار نور عرفانی معاصرین هم په ملتان کي و، نو به د سلیمان ماکو قول اصح وی، په هر صورت قطب الدین خو پښتون و، چی یی له خپله قومه بختیارانو څخة تللی یا د سند په اوچ یا د ماوراً النهر په اوش کی اوسید، لکه دمخه چی وویل سوه، په هند کی یی شهرت موندلی دی.

قطب الدین د مخزن افغانی اوآئین اکبری او مخبرالواصلین په قول د لومړی خور په ١٤ په ٦٣٣هـ او (فرشته ٦٣٤هـ) د عمر پر ٤٨ کال وفات او په دهلی کی ښخ سو، چی تر اوسه یی مزار ډیر مشهور دی.

## د قطب الدین اشعار

د قطب الدین علمی او عرفانی شهرت خو له تیرو لیکنو څخه تاسی ته ښکاره سو، چی دا نومړی بختیاری پښتون په عرفانی دنیا کی څونی لوړ مقام لری، او اکثر د اولیاوو تذکره نگاران د ده احوال ذکر کوی. مگر دا عارف د پښتو یو خورا ښه شاعر هم دی، چی سلیمان ماکو یی پخپله تذکره کی د مناقبه تر شرح وروسته یوه عشقی سندره هسی را نقل کوی، او ځکه چی سلیمان د ده معاصر دی، نو یی قول د منلو وړ هم دی: *بختیار* په پښتو *سندری کړینه اوښی تویوینه، خدای ته ناری کړی، غلبلی کړی، پاړکی لرینه چی یو یی دا دی:*

*ویر می زړه سوری سوری کړ راته وگوره ملوکی!*

په دی شعر کی د پښتو شعر زوړ اثر او سلاست سته، یوه پردی کلمه په گډه نه ده، او د ادا ډول یی هم ساده اما ډیر بلیغ دی، د مینی واردات او د مین زړه احساسات یی ښه پکی څرگند کړی دی. دا شعر لکه اوسنی عامیانه اشعار تکراریدونکی کسر هم لری. داسی

---

[27] د سلیمان ماکو تذکره

[28] تاریخ معصومی ص ٣٣، تاریخ مبارک شاهی ص٥-٦، طبقات اکبری ج٢ ص٦٢

ښکاري چې قطب افغاني د مینې په دنیا کې تاوده جذبات لرل، او سلیمان ماکو چې د ده معاصر دی، دغه عشقي احساسات یې په داسې ډول بیانوي: *تل ژاړي، او ناري او غلبلې کړي، او د عشق سندرې لولي، له دغو عشقي نارو او سندرو څخه یوه سندره اوس موږ ته پاته ده، چې د شاعر د زړه درد او سوزناکه جذبات ښکاره کوي*

قطب یو د پارسي لوی دیوان هم لري، چې ټول عشقي غزلیات دي او له هغو څخه هم د ده عشقي جذبات ښکاري، مګر په پارسي کې د ده اشعار ډیر ښه بلیغ او روان نه دي، ځکه چې اصلي او مورنی ژبه یې پښتو وه، نو یې په پارسي هغسې اشعار نه دي ویلي چې د پارسي د لوړو شاعرانو سره مقابله وکړي، په اکثرو پارسي اشعارو کې تعقید او شعري عیوب سته، لکه دا شعر:

هر که رابر سر کوی تو مقامش باشد          شربت وصل تو هر لحظه به کامش باشد

په لومړي مسرې کې (را) او بیا مقامش (ش) بیخونده دي، او دا دواړه په یوه جمله کې په دغه ډول سره یو ځای کول هم د بلاغت له اصولو سره نه ښایي، که دا لاندې ابیات هم ولولي، دغه خبره به ښه څرګنده سي، او هم به مو د ده د پارسي کلام نمونه لوستلې وي.

| | |
|---|---|
| ای خاک درت به فرق سر تاج | محتاج تو هم غنی و محتاج |
| هستی وجود عاشقان را | کردی که به کرشمه تو تاراج |
| از دولت عشق تو دل من | چون بحر عمیق گشته مواج |
| از مملکت وجود عشقت | هر چیز که بود کرد خراج |
| خامی که زنده ام از انا الحق | بر دار زینش همچو حلاج |
| محتاج تو قطب دین نه تنهاست | باشد بتو کاینات محتاج |

که د دغه پارسي دیوان انتساب قطب افغان ته ثابت سي، نو به موږ ووایو په ربښتیا چې دا د هو غیر پارسي زبان سړي کلام دی، چې پارسي یې خپله ژبه نه وه او یو پښتون به داسې ماته ګوډه پارسي وایي. که څه هم لوړه غزله د ویونکي د فکر پوخوالی ښیي خو ژبه یې هغومره پخه، سوچه او خوږه نه ده.

فقط

هذا الكتاب تذكرة أولي

بسم الله الرحمن الرحیم

وایم حمد و سپاس د لوی خاوند او درود پر محمد مصطفی صلی الله
علیه وسلم چې دی یا د ... رحمت ... لوی نوی
رحمتونه د ... استازی ... او ... جهان
پاس ... روښان ... غریب ... سلیمان ... دیار
خان ... په ... مسلم او ... کو یا ... م
پس د ... صوه ... الله ... او ... علم
کلیو ... افتدا ... صلوم بالکل ... لوی م
کا ... او ... تمام او ... سر کلمه ... وریته
دارد ... ده ... کور ... او ... بیا
یا ... اوله ... ستون ... چې ... کار
او دوی ... او ... لوی او ... قدوه
الواصلین شیخ شاه ... چې د خدای په ... لوی
ملتوکو او ... نقل کاندی چې شیخ ... عمر
د کسی باندې ... دیره او ... بیا
او روزه ... د خدای په عبادت ...





بهتی
نقل ... کاندی یا الله چې ... روزگار د شیخ
کښې د ده ... شیخ ... او ... شیخ
خور اکبران ... او ... کله ... بیل
خیل ... خیل ... اسماعیل ... کاره
او ... د ... خدای مهربان د
اسماعیل په برکت ... نصیب کړ
د ... او ... (...) ... د
اسماعیل ... دک د کسی ... چې
زه ... نقل کاندی چې ... پیدا ... سو
نوده ... کله ... او ... چې
است کا ... او ... او ... ب
کول کښې برکت کښې ... دار قبول ...
خواست او ... د ... بیا

پہ کړل نقل کاوه شی چی شیخ ستنی بسم الله
دېر دا سندری لولوں او کسی غ کښې ب
کمر چید پ شپی لوی خدای لوی خدای شا پ
مېن بې مر ثجای غ ورلاړ دی دریاوی کښې
لمق ل زوی پ بجاری کښې د لنه د دغر د طنی
زمن کړزدی دیکو بلنی داوکمرې ډېر کړی
خدای لوی لوی خدای د لنه بزرجز اور
بل دی ورکوری دوه بوډ جل دی
مېن ستناکی مر مشتر بو بل د چا پ
مله تله نه لیو سک وزک نغښته
سفا دوه ډله نا د پالزمتا دخدای لوی خدای
لوی



بچکا دغازی شهاب الدین چی بو ... عل و
تیل او وشی بچ ... روبکا ستالن وبم ملکي و دشها ب ... چې
شیخ ملک ار نجی غ ... ستالن ... اعن ... لوی ... مدیره اوم ... سوری
دلی نس نغه سنس ... اعن ... لوی ... ... شاکر ...
شو نقل کاوه شی چی پ بوبله کښې ... کافرو ...
لفار ... بو کمر لر ناوی چی مسلمانان شی کها
پنا او دښته ... ګمر چی ... شیخ ملکار ... اوسر دښن
غل دکاوه او دښ رست ... نور ... ملا ... قوم
دملکیار ترا ... لوری وکښې او ... سره ... ول
دښته ستر ... دوی ت پ ... ان د شیخ ...
لو سو ب او بری چی ... نه وب ... شوی د
بها ... پ شیخ ... کښې پ بوبله کښې ملیار د
... دل چی غازیان چهار ... او پ ... دلم لو
... شرل ... مو ... دی اوس ... دی

اسواد دبل ذر فاء یالدو تھوری ثھتن موصل ذک وری تری
کسری ادبن مو بیر کترمن منکلی سرمن کرمن خلہ بسو
نحشتی مو مل ذک ت تھتک کمر زدون پر برک سو ا
یی زمرک لیون اسلام راتخذ دن ٹھتبن ہو مل ذک
غار بالو راشی تھول شا و خوانی دنہا سھلا مشی
مو مل دک تُل و دوشی یچا شیخ ملبار ستان بہ تلی تنلر
شیخ اسماعیل سنبرستانے بار کی و پل او سبوغ بہ کہ
داشیخ د سربا بجوه و نشبنہ کمر لرا ملبس بسمی ابلس
لعین شار ہ شنی علیہ ورکہ پلوشہ شما تد ل انرہا نور ما بیا ا شی
سرہی دراکر شنی لیا ملبسے ہو وخ دیس پے کتارہ شی سربلا
وسسنخلہ کمر برچا ابلیس ضرا گی شو سی ملہ تنداره
شما کسے سمری ابلیسا بہ شو سر کرو دہ بر نمانہ شی
او

علی سسں کا ہ ثتس یچی بنجتا رمن مستر ستان
ابر سے نہ یشوم رمن سخد کراماٹ یچی ھو
وکنل زہ ہ ابل موسی یچی ستربلار ہ د قطب
سلام رک بنجتبا رالو تخذ اہ مشنت وبرالواد
یچے سبند ا شی لتر دن بجوک دموسی شیخ
الحمد سنے لہ من منان ور کرشوک دستر لاس
ہ شبر وکر و سیر ادھر نرمن دستن بزعنو واہ
و خدا ہ حکر بیر بے راللل سمی شوچی بیمبا
شنو رو کرہ بہ بنجتار بہ سنتو سند زمن کرمیر ارنجی

تو هیو بینه نه دا اې ت: نار کړه غیبلي کړه یا هر کښې لړ مینه مې
لیه دا دی هر یدم زړه مسوري مسوري کړه راته
ګوره ملوکې په بیلتون کې د دنیا مینه لرخور منا زړګي ګوره
راشه وګوره ملوکې راشه ګوره ملوکې د بیلتون اور دمنا
بل دی سرګرمي زړګي شو بڼي لیوني یم دین شو نه زه
یکه بیلتون راشه دګوره ملوکې راشه
ګوره ملوکې راشه وګوره ملوکې غوږ ولې دی اور
بل دی اور زړه په زړګي بل دی زه بنجیار نه اوري
اېری شوم په اور شوی م ګوکل دی راته وګوره ملوکې
راشه